د سمدستي خپلوي لپاره
د ۲۰۱۷ کال مې میاشتېلمړۍ نېټه
د امریکا نړیواله پراختیايي اداره
د عامه اړیکو څانګه
برېښنالیک: KblAIDDoc@usaid.gov
ویبپاڼه:www.usaid.gov/afghanistan

مطبوعاتي اعلامیه

د «ښوونه د ټولو لپاره» ترنامه لاندې یو نړیوال بنسټ د امریکا پراختیايي اداړې تر ملاتړ لاندې د یوې پروژې«ښوونه د افغانستان لپاره» ګډونوال لنډمهاله بورسونو ته غوره کړل

کابل ، افغانستان— افغانستان د هیواد کوډ کوډ څخه خپل غوره او تکړه زده‌کوونکي جذبوي ترڅو د «ښوونه د افغاستان لپاره» ترنامه لاندې د امریکا نړیوالې پراختیايي اداړې یو نوی پروګرام له لارې نورو ته د ښوونې چمتو کولو برخې کې مرسته وکړي.

د امریکا نړیوالې پراختیايي اداړې په افغانستان کې د پوهنې پیاوړتیا پروژې دوهم پراوو په مرسته د «ښوونه د افغانستان لپاره» تر نامه لاندې د مدني ټولنې یو نوی بنسټ رامنځته شو ترڅو د افغانستان د لوړو زده‌کړو هیله ښوونکي فارغان جذب او وروزي ترڅو د خپل دوه کلنې ژمنې د یوې برخې په توګه د افغانستان په خوا نیازمندو ښونځیو کې ښوونه وکړي. د دغې پروژې موخه دا ده چې ټول افغان ماشومان وکولای شي چې د پوهنې له لارې خپل استعدادونو ته وده ورکړي. د افغانستان دغه پروګرام د "ښوونه د ټولو لپاره" نړیوال موډل په بنسټ رامنځته شوی.

اغلې وندي کوپ چې د "ښوونه د ټولو لپاره"بنسټ اجرایي رئیسه او د دغه بنسټ د بنسټ ایښودونکو څخه ده په دې اړه وویل « د "ښوونه د ټولو لپاره" بنسټ کې موږ ټولو ته د افغانستان نوي نسل رهبرانو رامنځته کولو لپاره چې د ماشومانو پوهې او فرصتونو ښه کولو لپاره به خپل هڅې وقف کړي د "ښوونه د افغانستان لپاره" بنسټ ټېنګې ژمنې هیله او انګیزه رامنځته کړي.» هغې زیاته کړه « زموږ نړیوالې شبکې سره د "ښوونه د افغانستان لپاره" بنسټ یوځای کیدلو او د دغه بنسټ اغیزمنتیا کې زموږ مرستې ته او د هغه نوښتونو او بریالیتوبو څخه د زده‌کړې فرصت رامنځته کیدو له وجې خورا خوښ یو.»

د "ښوونه د افغانستان لپاره" پروژه د ۲۰۱۶ کال سپټمبر میاشت کې پیل شوه. له هغه وخت راهیسې ، دغه بنسټ د لوړو زده‌کړو ۸۰ فارغان د ننګرهار ولایت ولسوالیو ۲۱ نیازمندو ښوونځیو کې چې د ۲۳۰۰۰ څخه ډیرو زده‌کوونکو ته ښوونه ورکوي ځای پر ځای کړي دي.

د روان کال په اپریل میاشت کې د"ښوونه د ټولو لپاره" نړیوال بنسټ د نړۍ نجونو بورسونو پروګرام ته د افغانستان څخه د لوړو زده‌کړو پنځه فارغان (چې درې یې ښځینهدي) غوره کړل. دغه پروګرام د نجونو زده‌کړې پر وړاندې د خنډونو په اړه پوهې باندې غوږ کوي او د زده‌کوونکو او د پوهنې ځانګې د همکارانو وړتیا او پوهه لوړوي ترڅو دغو خنډونو ته د حل لارې وموميي. دغه نوښت چې د ۲۰۱۷ کال په اپریل میاشتې کې پیل شوی ، د یو کم شیمر کسانو لپاره یو دوه میاشتنی انټرنټ بنسټه(انلاین) کورس چمتو کوي او په پام کې لري چې په مني کې د یوې لوبې دلې لپاره یو پراخ بورس چمتو کړي. دا لمړی ځل دی چې د افغانستان څخه شځینه فارغانې د نړۍ نجونو بورسونو پروګرام ته غوره کیږي.

د امریکا نړیوالې پراختیايي اداري رئیس ښاغلي هربي سمیټ په دې اړه وویل «موږ ډیر ویاړو چې د دغه پروګرام سره او په خورا نیازمندو ښوونځیو کې د ښوونې ستونزو حل لپاره د دغه پروګرام نوښتګره تکلارو سره تړاو لرو.» هغه زیاته کړه «موږ هیله‌مند یو چې نور ښوونځي د"ښوونه د افغانستان لپاره" تکلارې څخه ګټه پورته کړي او د افغانستان غوره او تکړه زده‌کوونکي هڅوو چې د نورو سره مرسته وکړي.»

###

د ۲۰۰۲ کال راهیسې په افغانستان کې پراختیايي پروګرامونو باندې د ۱۷ میلیاردوډالرو څخه ډیرو پیسو لګولو سره ، د امریکا نړیواله پراختیايي اداره افغانستان ته د ټولو څخه لوی دوه اړخیزه ملکي مرستندویه پروګرام وړاندې کوي. د امریکا نړیواله پراختیايي اداره د افغانستان حکومت او ولس سره ملګرتیا کوي ترڅو د هیواد خصوصي سکتور په مشري اقتصادي ودهتضمین ،یو دیموکراتیک او ځواکمن دولتچې د قانون حاکمیت له لورې حکومت وکړي رامنځته ، او ټولو افغانانو ته لمړني روغتیايي او پوهنیز خدمتونه چمتو کړي.

د آمریکا ولس، د آمریکا نړیوالې پراختیايي اداړې له لورید څه د پاسه ۵۰ کلونو راهیسې د نړۍ کوډ کوډته بشري او اقتصادي مرستې چمتو کړي دي.

د آمریکا نړیوالې پراختیايي اداره په فلکر کې | د آمریکا نړیواله پراختیايي اداره په یوټیوب کې | د آمریکا نړیوالهپراختیايياداره په ټویټر کې | د آمریکا نړیوالهپراختیايياداره په فیسبوک کې